آصف بهاند
۲۰۱۷/۰۵/۰۴

# ستا د یادونو زیارت

**زما د ککرۍ تر ګومبزې لاندې**

**زما د ماضي او حال پراخ ډګر کې**

**د جنګ جګړو**

**وینو لمبو**

**ترخو، خوږو یادونو**

**د ګڼې ګوڼې شر و شور یو څنګ کې**

**ما یو زیارت جوړ کړی**

**دغه زیارت،**

**ستا د یادو زیارت دی**

**ستا د نازونو او نخرو دمه ځای**

**زه هره ورځ او هر ساعت نه ورځم**

**هره شیبه او هره سا کې ورځم**

**هلته زیارت په سر کې**

**وچه لکړه باندې**

**رنګه دسمال بندوم**

۲۰۱۷/۰۴/۲۸
هیدرسلیف
ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ